د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

شیخ زاید پوهنتون

وترنري علومو پوهنځي

# د وترنري علومو پوهنځي معلوماتي کتلاک

ترتیب : فرهنګي چارو فرعي کمیټه

کال: ۱۴۰۵هـ.ل

## د مطالبو لړلیک


**د وترنري علومو پوهنځي د رئیس پیغام ............ 2**

**د وترنري علومو پوهنځي تاریخچه او لنډه پېژندنه ............ 3**

**د وترنري علومو پوهنځي لرلید ............ 3**

د وترنری علومو پوهنځي ماموریت (رسالت) ............ 3

د وترنري علومو پوهنځي بنسټیز ارزښتونه ............ 3

د وترنري علومو پوهنځي بنسټیزې موخې ............ 3

**د وترنري علومو پوهنځي اداري او اکاډمیک تشکیل ............ 4**

**د پري کلینیک څانګې لنډه پېژندنه ............ 8**

د پري کلینیک څانګې موخې ............ 8

د پري کلینیک د استادانو پېژندنه ............ 9

د پري کلینیک ډیپارټمنټ درسي نصاب ............ 10

**د پاراکلینیک څانګې پېژندنه ............ 10**

د پاراکلینیک څانګې موخې ............ 11

د پاراکلینیک څانګې د استادانو پېژندنه ............ 12

د پاراکلینیک څانګې درسي نصاب ............ 13

**د کلینیک څانګې پېژندنه ............ 14**

د کلینیک څانګې موخې ............ 14

د کلینیک څانګې استادانو پېژندنه ............ 15

د کلینیک ډیپارټمټ درسي نصاب ............ 16

**د غذایي موادو حفظ الصحه او تکنالوژي څانګې پېژندنه ............ 17**

د غذایي موادو حفظ الصحه او تکنالوژي څانګې موخې ............ 18

د غذایي موادو حفظ الصحه او تکنالوژي څانګې استادانو پېژندنه ............ 18

د غذایي موادو حفظ الصحه او تکنالوژي ډیپارټمټ درسي نصاب ............ 19

**د وترنري علومو پوهنځي د رئيس پيغام**

شـيخ زايد پوهنتون د هېواد او په تېره بيا د سـوېل ختيځ زون په سـطحه له معتبرو پوهنتونونو څخه ګڼل کېږي او پوره دوه لسـيزې کېږي، چې هېواد ته په تحصيلي ډګر کې با کيفيته خدمات وړاندې کوي. د شـيخ زايد پوهنتون دولس ګونو پوهنځيو په قطار کې د وترنري علومو پوهنځی يوه مهمه پوهنځی ده، چې په ۱۳۹۲ لمريز کال کې د شـــيخ زايد پوهنتون په چوکاټ کې تاسـيس شـوی دی. وترنري علومو پوهنځی د هېواد د مالدارۍ سـکتور د ودې او پرمختيا لپاره وړ کادرونه روزي چې په هېواد کې د اقتصادي پراختيا لپاره د پام وړ ارزښت لري.

څرنګه چې د افغانسـتان په ډېرو ولايتونو کې مالداري او زراعت د غريبو خلکو د اقتصـاد لومړنۍ منبع ګڼل کېږي او د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره د پام وړ ارزښت لري، د مالدارۍ پرمختګ د افغانستان د حکومت له مهمو اهدافو څخه شمېرل کېږي. له همدې امله، د دې پرمختګ لپاره يو پرمختللی او روزل شـــوی مرکزي قوت ته اړتيا ده. د وترنري علومو پوهنځی د ځوان نسـل لپاره په لوړو او با کيفيته زده کړو تاکيد کوي او د دې مسـلک متخصـصـين او ښـه رهنمايي کوونکي د پرمختګ لپاره ضـــروري ګڼي. د دې متخصـــصـــينو په واســـطه کولای شـــو چې په هېواد کې د روزنې په برخه کې لکه د چرګانو روزنې فارمونه، د ماهيانو روزنې فارمونه، د مچيو روزنې فارمونه، د خوســـکيو او غواګانو روزنې فارمونه او د وزو او مېږو روزنې فارمونه په ښه شکل مديريت، وقايه او تداوي کړو.

بناً، د افغانسـتان اجتماعي، اقتصـادي او علمي پرمختيا او د لوړو زده کړو وزارت د پلان او پاليسـۍ سـره سـم، شـيخ زايد پوهنتون په چوکاټ کې وترنري علومو پوهنځی په تېرو کلونو کې په لســـګونو تنه ځوان وترنران خپلې ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي، چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې په دندو ګمارل شوي او يا خپل شخصي کارونه پرمخ بيايي کوم چې د هېواد په آبادولو کې فعاله ونډه لري. د وترنري علومو پوهنځی اســـتادان ژمن دي چې په راتلونکي کې نور هم اغېزمن ګامونه پورته کړي.

په ټوليزه توګه، وترنري علومو پوهنځی د هيواد په اقتصــــادي، روغتيايي او ټولنيز پرمختګ کې حياتي رول لوبوي. په دې توګه، د وترنري متخصصين نه يوازې د مالدارۍ سکتور بلکې د ټولنې په پرمختګ کې هم مهمه ونډه لري.

زه د پوهنځي د رئيس په توګه له ټولو اســـتادانو او اداري کارکوونکو څخه خوښ يم چې په ټولو اکاډميکو او اداري برخو کې په پوره صــــداقت خپلې ورســـپارل شـــوې دندې پرمخ وړي. په پای کې خپلو ټولو محترمو اســـتادانو، اداري کارکوونکو او محصلانو ته په ورځنيو چارو کې د لا ډېرو برياليتوبونو هيله کوم.

په درنښت

پوهنمل عبدالطيف رحيمي

د وترنری علومو پوهنځی رئيس

**د وترنري علومو پوهنځي تاریخچه**

وترنري علومو پوهنځی په ۱۳۹۲ لمریز کال کې د شـــیخ زاید پوهنتون په چوکاټ کې رامنځته شـــوی دی. نوموړي پوهنځی په ســـیمه کې د تدریس او روزنې له لارې د مالداری ودې او پراختیا ته ژمن دی. فعلاً، وترنري علومو پوهنځی درې څانګې لري: پری کلینیک، پارا کلینیک، او کلینیک، چې ټولې څانګې یې عمومي لوستل کیږي. وترنري علومو پوهنځی ۱۶ تنه استادان لري چې له دې ډلې څخه ۱۰ تنه یې ماسټران او ۶ تنه یې لیسـانس دي. یاد پوهنځی ۴۰۹ تنه محصـلین لري. چې تر دې مهاله یې د ډیرو ستونزو او نیمګړتیاوو برسېره د یولسو کلونو په اوږدو کې ډېر د پام وړ پرمختګونه درلودل او په تدریسي او ښوونیز بهیر کې یې خپلو محصـــلانو ته غوره خدمتونه وړاندې کړي دي. د نظري تدریس ترڅنګ یې عملي برخې ته هم د پام وړ خدمات ترسـره شـوي دي. په ټوله کې، نوموړې اداره دې ته ژمنه ده چې معیاري او با کیفیته زده کړو او څېړنو له لارې د افغانسـتان مالدارۍ سکتور ته وده او پراختیا ورکړي.

**لرلید (Vision)**

په ملي او نړۍ واله کچه لوړې او با کیفیته زده کړې وړاندې کول، د ســـتونزو پر بنســـټ څېړنې ترســـره کول، عامه صـــحي خدمات وړاندې کول او پیاوړي اکادمیکي اداري جوړول.

**ماموریت: (Mission)**

د شـــیخ زاید پوهنتون وترنري علومو پوهنځی رهبري دې ته ژمنه ده چې په محلي او ملي کچه د باکیفیته حیواني صـحت، انسـاني ټولنې صحت سـاتنه، حیواني صـحي محصـولاتو تولید، حیواني محصـولاتو اداره کول، نوښـتونو ایجاد او ترویج په برخه کې غوره زده کړې او څیړنې وړاندې کړي. همدارنګه، په هیواد کې د مالدارۍ سـکتور د ودې او پراختیا لپاره د اړتیاوو پر بنسټ غوره خدمات وړاندې کولو ته ژمنه ده ترڅو د دې اړتیاوو په رفع کولو کې اغېزمن تمام شي.

**ارزښـتونه (Core Values)**

د شیخ زاید پوهنتون وترنري علومو پوهنځی اداره لاندې ارزښتونو ته ژمنتیا لري:

په اسلامي روحیه سمبال کادرونه روزل.

د بشري کرامت، علم او عالم درناوی.

په ځان باور، نوښت او په علمي ډګر کې د مشروع رقابت روحیه رامنځته کول.

صداقت او رښتینوالي ته ژمن دي.

په ملي او بین المللي کچه د خپلې ټولنې اړتیاوو ته مسؤلانه جواب ویل.

**د وترنری علومو پوهنځي بنسټیزې موخې**

1. د فارم اهلي حیواناتو (لویو او کوچنیو شـخوند وهونکو، الوتونکو، ماهیانو، شـاتومچیو او یو سـومه حیواناتو) د محلي او نړیوالو نســـلونو مطالعه، روزنه، جنیتیکي اصـــلاح او د توقع وړ تولیداتو په برخه کې شـــته خنډونو او ګواښـونو له منځه وړل او د نوموړي سکتور په برخه کې د ظرفیت او مهارتونو لوړونه.
2. د حیواني انفکشني او غیر انفکشني ناروغیو د تشخیص او درملنې په برخه کې د پوهې او مهاروتونو لوړونه.
3. د څیړنې سره د زده کونکو بلدتیا او نوموړي نظرې د ترویج په برخه کې وخت په وخت اړین ګامونه پورته کول.
4. د انسـاني ټولنې لپاره د غذایي موادو تجزیه، حفظ الصحه او تولید څخه تر مصرف پورې اړوند مرحلو کې د شته ګواښـونه پر وړاندې د محصلینو ظرفیت لوړونه.

5. په ټولنه کې د اهلي او وحشـي حيواناتو په وړاندې د ترسـره شـویو جرمونو د عواملو په تشـخيص او تثبيت کې د محصلينو پوهې کچه لوړونه.
6. د اهلي حيواناتو د اعضاوو ساختمان، شکل، موقیعت او هستولوژي په برخه کې علمي او عملي زده کړې.
7. د اعضاوو د مختلفو دندو او بیوشیمیکي فعالیتونو په برخه کې د ظرفیت لوړونه.
8. مختلفو انتاني، زونوټيکو ناروغيو او قرنطين په برخه کې علمي او عملي زده کړې.
9. د کيفيت ساتنې او لوړونې په موخه په دوامداره ډول د پوهنځي دعلمي فعاليتونو څارنه.
10. د پوهنځي په علمي او اداري فعاليتونو کې د نظم بر قرارولو په موخه يو منظم سيستم عيارول.
11. د پوهنځي د درسي نصاب د تطبيق څخه وخت په وخت څارنه او د جامعې د ضرورت مطابق نصاب نوي کولو په موخه نظريات وړاندې کول.
12. په عملي دګر کې د E-learning په پرمختګ کې هلې ځلې ترسره کول.

**وترنري پوهنځي فارغ التحصيل**

د وترنري علومو پوهنځي څخه فارغ التحصيل هغه محصل دی، چې د وترنري يا حيواني طب په برخه کې خپلې ټولې اکاډميکي او عملي زده کړې په برياليتوب سـره بشـپړې کړي. د دې پروګرام د زده کړو بهيرعموماً پنځه کلونه وخت نيسـي، په ترڅ کې يې محصلين د مختلفو څانګو او مضامينو په اړه پوهه او مهارتونه ترلاسه کوي.

د وترنري علومو پوهنځي فارغ التحصـيل محصـل د زده کړو تر بشـپړولو وروسـته بايد د حيواناتو په درملنه، د حيواناتو د ناروغيو کنټرول، مشـوره ورکولو او عامه روغتيا کې فعاله ونډه ولوبوي. دا مسـلک يوازې د حيواناتو درملنه نه ده، بلکې په اقتصادي پرمختګ، غذايي خونديتوب، او د انسانانو په روغتيا کې هم مهمه ونډه لري.

**۱- د پوهې په برخه کې**

د پوهې له پلوه، يو د وترنري فارغ التحصـيل بايد د حيواناتو اناټومي، فزيولوژي، ناروغيو او درملو په اړه قوي علمي پوهه ولري. دا پوهه د ناروغيو تشـخيص، درملنه، او جراحي مهارتونو لپاره بنسـټيزه ده. همدارنګه، د عملي زده‌کړو او کلينيکي تجربو لـه لارې، بـايـد د مختلفو حيوانـاتو نـاروغيو مؤثره درملنـه وکړي او پـه عـاجلو حـالاتو کې يوه منظمـه کړنلاره وکاروي ترڅو ستونزې په ښه توګه مديريت کړي.

د سـتونزو حـل کولو وړتيـاوې هم مهمې دي، ترڅو پـه پيچلو نـاروغيو کې علمي تکلاره وکارول شـي. د عـامـه روغتيـا او اپيډيميولوژۍ په اړه بشـپړه پوهه اړينه ده، چې د ناروغيو خپرېدنه او کنټرول په مؤثره توګه مديريت شي. د څېړنې وړتياوې د نويو معلوماتو ترلاسه کولو او علمي خپرونو کې د ونډې اخيستلو لپاره ضروري دي، چې په ترڅ کې يې د نوي معلوماتو تحليل او تجزيه هم ډيره مهمه ده.

ارتباطي مهارتونه هم حياتي دي، ترڅو د حيواناتو مالکينو او نورو مسـلکي کسـانو سـره مؤثرې اړيکې ټينګې شـي. اخلاقي اصـولو ته په پام کې نيولو سـره، د حيواناتو روغتيا په اړه مسـؤلانه چلند ترسـره کول. د دوامداره زده کړې ليوالتيا فارغ التحصـيل ته دا وړتيا ورکوي چې د نويو پرمختګونو سـره ځان عيار وسـاتي. په ټوله کې، دا ځانګړتياوې د وترنري فـارغ التحصيل ته په مسلک کې برياليتوب او د حيواناتو او ټولنې روغتيا په برخه کې د مثبتو اغېزو وړتيا ورکوي.

**۲- مهارتونو په برخه کې**

وترنري علومو پوهنځي فارغ التحصيل بايد د مهارتونو له پلوه څو اړينې ځانګړتياوې ولري ترڅو په خپل مسلک کې بريالی وي. کلينيکي مهارتونه، لکه د ناروغيو تشخيص، درملنه او جراحي، کوم چې د هر وترنر ډاکټر لپاره بنسټيز ارزښت لري. دغه فارغ التحصـيل بايد په نظري عملي پوهه کې پوره مهارت ولري، ترڅو د حيواناتو اناټومي، فزيولوژي او ناروغيو په اړه ژوره پوهه ولري. د ســتونزو حلولو وړتيا د پيچلو حالاتو په مديريت کې مهم دي. څېړنيز مهارتونه، د ټيکنالوژۍ کارول، او ارتباطي وړتياوې هم اړينې دي، ترڅو د ناروغيو په اړه په مؤثره توګه معلومات شــريک کړي او د عصــري تجهيزاتو څخه ګټه پورته کړي. سربېره پر دې، د اخلاقي اصولو پيروي، هماهنګي او کلينيکي تنظيم او مديريت مهارتونه يو فارغ التحصيل ته دا وړتيا ورکوي چې په مسلکي او مسؤلانه ډول خپل دنده ترسره کړي.

**۳- د اخلاقو او سلوک په برخه کې:**

په مسـلکي ژوند کې صـداقت او ريښـتينولي اړينه ده، ترڅو ناروغانو او د هغوي مالکينو سـره د درملنې په بهير کې شـفافيت وسـاتل شـي. له حيواناتو سـره مهربانه چلند کول بايد د هر وترنر ډاکټر لپاره لومړيتوب وي. د معلوماتو محرميت ته درناوی کول او د ناروغيو تشخيص او درملنې په اړه معلومات په اخلاقي توګه اداره کول هم اړين دي.

سربېره پر دې، د ټيم په کار کې همکاري او له همکارانو او د ناروغانو له مالکينو سره په درناوي چلند کول د يوه بريالي وترنر ډاکټر د شـخصـيت مهمې برخې دي. همدارنګه، په اخلاقي توګه سـمه پرېکړه کول، کوم چه په ځانګړي ډول په اضـطراري يا بېړنيو حالاتو کې، د ا يو ستر ارزښت لرونکی مهارت دی. د ټولنيز مسؤليت احساس او د عامه روغتيا په برخه کې فعاله ونډه اخيســتل د دې مســلک يوه بله مهمه برخه ده. بالاخره د دوامداره زده کړو او پرمختګ لپاره ژمنتيا لرل، چې په عصــري ټيکنالوژۍ او علمي پرمختګونو کې ځان تازه وســاتي،چې دا يو مهم اخلاقي مســؤليت دی، چې د وترنر ډاکټر د غوره والي ښکارندونه کوي.د سلوک او اخلاقو له اړخه يادې ځانګړتياوې د يو وترنر فارغ التحصيل لپاره دا تضمينوي چې هغه په خپل مسلک کې د حيواناتو او ټولنې لپاره غوره او مسؤلانه خدمتونه وړاندې کړي.

**د شيخ زايد پوهنتون، وترنرى علومو پوهنځي لاندې فزيکي سرچينې په واک لري:**

فزيکي ســرچينې د وترنري علومو پوهنځي د زده‌کوونکو لپاره د علمي او عملي روزنې، زده‌کړو يوه مهمه برخه جوړوي، چې له دې لارې هغوي د حيواناتو د روغتيا او درملنې په چارو کې اغېزمن مهارتونه ترلاسـه کړي. شـيخ زايد پوهنتون د وترنرى علومو پوهنځي د زده‌کوونکو د ښــوونې، روزنې او څېړنې لپاره يو شــمېر مهمې ســرچينې په واک کې لري، چې د پروګرام د کيفيت په لوړولو کې مهم رول لوبوي. دغه پوهنځی ژمن دی چې په راتلونکي کې هم د دغو سـرچينو د پراختيا لپاره هڅې وکړي، تر څو د پروګرام موخې په لا ښه توګه ترلاسه شي. د وترنري علومو پوهنځي ځينې فزيکي سرچينې په لاندې ډول دي.

**۱-کلینیک او د درملنې خونه:** د وترنري علومو پوهنځي د محصلینو، عملي کارونو د تر سره کولو لپاره په ۱۳۹۸ لمریز کال کې وترنري علومو پوهنځي تدریسي حیواني کلینیک ودانۍ جوړه شوه متاسفانه د تشکیل د نه شتون له امله تر ۱۴۰۳ لمریز کال پورې یې فعالیت نه درلود، خو د ۱۴۰۳ لمریز کال څخه راپدې خوا کله چې د لوړو زده کړو وزارت له خوا تشکیل ورکړل شو، چې په تشکیل د کلینیک آمر، وترنر ډاکټر او یو تن لابرانټ موجود دي، نو اوس د حیواناتو درملنې په برخه کې د یو اساسي بنسټ په توګه فعالیت کوي. د دې کلینیک تاریخچې ته په کتو، له خپل فعالیت څخه راهیسې د محصلینو د عملي زده کړو او مسلکي ودې لپاره یې مهمې اسانتیاوې برابرې کړې دي. په دې کلینیک کې نه یوازې د حیواناتو درملنه ترسره کېږي، بلکې د محصلینو لپاره د مختلفو مهارتونو لوړولو، څېړنو، او عملي تجربو لپاره هم اړین فرصتونه برابروي. د دې مهمې برخې له لارې محصلین د وترنري علومو په مسلک کې اغېزمن مهارتونه ترلاسه کوي.

د وترنري علومو پوهنځي تدریسي کلینیک اوسمهال یو شمېر اساسي تجهیزات په واک کې لري، چې د محصلینو عملي زده‌کړو او د حیواناتو د درملنې لپاره کارول کېږي. په راتلونکي کې، د کلینیک ټول کارکوونکي، په ځانګړي ډول استادان، د دې هڅه کوي چې د دغو تجهیزاتو لا غنا او پرمختګ ته دوام ورکړي. په دې توګه به د تدریس کیفیت لا ښه شي، او محصلینو ته به د عملي زده‌کړو لپاره غوره امکانات برابر شي.

**۲- لابر اتوارونه:**

وترنري علومو پوهنځی یو عمومي لابراتواري خونه لري، چې په مختلفو برخو کې د محصلینو لپاره د عملي زده کړې چاپېریال برابروي. په دې لابراتوار کې محصلین کولی شي په بېلابېلو برخو لکه اناټومي، مایکروبیولوژي، پرازیتولوژي، پتالوژي، د غذایي موادو تیکنالوژي او حفظ الصحې کې عملي زده کړې او څېړنې ترسره کړي. سره له دې چې لابراتوار یو شمېر اسانتیاوې لري، ځینې نیمګړتیاوې لا هم شتون لري. د پوهنځي استادان او لابراتور کارکوونکي ژمن دي چې د دغو نیمګړتیاوو د حل لپاره خپل پوره اخلاص او هڅې وکړي، ترڅو محصلینو ته لا ښه او معیاري اسانتیاوې برابرې شي.

**۳-کتابخانه او نورې سرچینې:**

وترنري طبابت، د حیواناتو روزنې، عامې روغتیا، او غذایي موادو مصوونیت په برخو کې د علمي کتابونو، مقالو او څېړنیزو موادو لپاره ځانګړې کتابخانه شتون لري. دا کتابخانه د زده کوونکو لپاره د علمي او څېړنیزو کارونو د ترسره کولو په موخه اړین معلومات او منابع چمتو کوي. د دې علمي سرچینو له لارې محصلین کولی شي خپلې پوهې او څېړنیزې وړتیاوې لا پیاوړې کړي او د خپلو مسلکي او علمي چارو لپاره کره او معتبرو منابعو ته لاسرسی ولري.

# د وترنري علومو پوهنځي اداري او اکاډمیک تشکیل

**د پوهنځي رئیس**

**پوهندوی عبدالطیف رحیمي**



**د پوهنځي مرستیال**

**پوهنمل صبغت الله دانش**



| **اکاډمیک تشکیل** | | | | **اداري تشکیل** | |
|---|---|---|---|---|---|
| د پري کلینیک څانګې آمر<br>پوهندوی خالد بشرمل | د پاراکلینیک څانګې آمر<br>پوهنمل میرافضل افضلي | د کلینیک څانګې آمر<br>پوهنمل حکمت الله لنګر | د غذایي موادو حفظ الصحې او تکنالوژي څانګې آمر<br>نوماند پوهنیار زین الله عابد | تدریسي مدیر<br>قدرت الله سعیدي | اجرائیه مدیر<br>جهادمیر منګل |
|  |  |  |  |  |  |

**د پري کلينيک څانګې لنډه پېژندنه**

د شيخ زايد پوهنتون د وترنري علومو پوهنځي د پری کلینیک څانګه تر اوسه ۵ تنه استادان لري چې دوه استادان د ماسترۍ تر کچې او دري يې د DVM تر کچې تحصيل لري او د يادې څانګې آمر کوښښ کوي چې خپلو استادانو ته د ماسترۍ او دوکتورا لپاره فرصتونه پيدا کړي ترڅو په راتلونکي کې د شيخ زايد پوهنتون د وترنري علومو پوهنځي پري کلينيک څانګه وکولای شي په هېواد کې د ماسترۍ پروګرام پيل کړي. همدارنګه په دې څانګه کې د استادانو ظرفيت لوړونه دوام لري او د ليسانس با کيفيت تحصيلي پروګرام لپاره ور ماستر او دوکتورا لرونکو استادانو ته اړتيا لري چې د نويو بستونو په اخيستلو او د هغو په ډکولو سره به د تدريس کيفيت لوړ شي.

د شيخ زايد پوهنتون د وترنري علومو پوهنځی اداره هڅه کوي ترڅو د وترنري علومو پوهنځي اساسي او تخصصي مضامينو ته په تحصيلي نصابونو کې بدلون ورکړي. د تحصيلي نصاب تغيير او تجديد کچه په بېلا بېلو پوهنځيو کې توپير لري او زياتره استادانو د خپلو درسي مضامينو مفردات په انفرادي توګه را منځته او تغيير کړي دي کوم چې نشي کولای د يو دوامداره بدلون لامل شي. محصلين په عمومي توګه د وترنری علومو پوهنځي ته د کانکور کلنۍ ازموينې له لارې لار پيدا کوي. د تحصيلي نصاب د لومړی کال په دوو سمسترونو کې پخوانی/عنعنوي درسي مواد او بنسټيز علوم لکه بيولوژي، کيميا، رياضيات، فزيک، انګليسي ژبه او اسلامي ثقافت تدريس کيږي. د دريم، څلورم او پنځم کال محصلين په خپله تحصيلي رشته کې د اختصاصي مضامينو زده کړه پر مخ بيايي.

**د پري کلينيک څانګې موخې**

د پري کلينيک څانګې د مضامينو د بشپړولو وروسته به محصلين په لاندې مسايلو حاکميت ولري:

1. محصلين به د مختلفو اهلي او وحشي حيواناتو او الوتونکو د ټولو سيستمونو د اناتومي باندې پوه شي.

2. محصلين به په مختلفو بيوشيميکي فعاليتونو او ځانګړتياوو باندې پوهه تر لاسه کړي.

3. محصلين به د مختلفو حجراتو د ساختمانونو عمده توپيرونو او په لابراتوار کې د هستولوژيکي سيستمونو او تخنيکونو سره بلدتيا پيدا کړي.

4. محصلين به د ټولو اهلي او وحشي حيواناتو د سيستماتيکي فزيالوژۍ په برخه به معلومات تر لاسه کړي.

5. څرنګه چې د وترنري علومو پوهنځي اساسات په لاتيني ژبې پورې تړلي دي، نو محصلين به د لاتيني ژبې په اساساتو پوه وي تر څو د وترنري مسلک په ټولو برخو کې ترې ګټه واخلي.

### د پري کلينيک څانګې استادانو لنډه پېژندنه

<table>
<tr><td colspan="4">پوهندوی خالد بشرمل<br><br>تحصيل درجه: ماستر<br><br>د پري کلينيک څانګې آمر</td></tr>
<tr><td colspan="4"></td></tr>
<tr><td>پوهنمل سيد اسماعيل کمال</td><td>پوهنيار مصطفی لودين</td><td>پوهنيار حيات الله تمدن</td><td>پوهنيار ولي درمان</td></tr>
<tr><td></td><td></td><td></td><td></td></tr>
</table>

په څانګه کې د شته استادانو شمير(بشري منابع) د علمي رتبې په اساس په لاندي ډول دي .

| ګڼه | نوم | تخلص | علمي رتبه | دنده | د تحصيل درجه | د مبایل شميره | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | خالد | بشرمل | پوهندوی | د څانګې آمر او استاد | ماستر | ۰۷۷۱۱۲۴۴۱۶ | |
| ۲ | سيد اسماعيل | کمال | پوهنمل | استاد | ماستر | ۰۷۷۶۶۶۳۵۶۹ | |
| ۳ | مصطفی | لودين | پوهنيار | استاد | DVM | ۰۷۷۴۱۹۵۰۵۸۰ | |
| ۴ | حيات الله | تمدن | پوهنيار | استاد | DVM | ۰۷۷۰۷۸۵۱۶۶ | |
| ۵ | ولي | درمان | پوهنيار | استاد | DVM | ۰۷۷۹۲۴۰۹۲۲ | |

**د پري کلينيک څانګې درسي نصاب**

| د پري کلينيک څانګه | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کوډ نمبر | کتګوري | کرېډيټ مجموعه | کرېډيټ | |
| | | | | | نظري | عملي |
| ۱ | اناتومي وترنری I | VS211 | اساسي | ۵ | ۳ | ۲ |
| ۲ | اناتومي وترنری II | VS311 | اساسي | ۴ | ۳ | ۱ |
| ۳ | بيوشيمي وترنری I | VS313 | اساسي | ۴ | ۳ | ۱ |
| ۴ | بيوشيمي وترنري II | VS413 | اساسي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۵ | فزيولوژي وترنری I | VS312 | اساسي | ۴ | ۲ | ۲ |
| ۶ | فزيولوژی وترنري II | VS412 | اساسي | ۲ | ۱ | ۱ |
| ۷ | طب لاتين | VS215 | اساسي | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۸ | هستولوژي او امبريولوژی وترنری I | VS214 | اساسي | ۵ | ۴ | ۱ |
| ۹ | هستولوژي او امبريولوژي وترنریII | VS314 | اساسي | ۳ | ۲ | ۱ |

**د پارا کلينيک څانګې لنډه پيژندنه**

د شيخ زايد پوهنتون د وترنری علومو پوهنځي د پارا کلينيک څانګه تر اوسه ۶ تنه استادان لري چې ۵ تنه يې الحمدالله د ماستري تر کچې او يو تن د DVM تر کچې تحصيل لري او د يادي څانګې آمر کوښښ کوي چې خپلو استادانو ته د ماستري او دوکتورا لپاره فرصتونه برابر کړي تر څو په راتلونکې کې د شيخ زايد پوهنتون د وترنري علومو پوهنځی پارا کلينيک څانګه وکولای شي په هېواد کې د ماسټرۍ پروګرام پيل کړي. همدارنګه په دې څانګه کې د استادانو ظرفيت لوړونه دوام لري او د ليسانس با کيفيت تحصيلي پروګرام لپاره ور ماسټر او دوکتورا لرونکو استادانو ته اړتيا لري چې د نويو بستونو په اخيستلو او د هغو په ډکولو سره به د تدريس کيفيت لوړ شي. د وترنری علومو پوهنځی د پارا کلينيک څانګه د اکاډميک او مسلکي اشخاصو د روزنې له لارې د مالداری ودې او پراختيا ته زمنه دی.

د وترنری علومو پوهنځی د پارا کلينيک څانګه هڅه کوي ترڅو د وترنری علومو پوهنځي اساسي او تخصصی مضامينو ته په تحصيلي نصابونو کې د ټولنې د ضروريا تو په اساس بدلون ورکړي. د تحصيلي نصاب تغيير او تجديد کچه په بېلا بېلو څانګو

کې توپیر لري او زیاتره استادانو د خپلو درسي مضامینو مفردات په انفرادي توګه را منځته او تغییر کړي دي کوم چې نشي کولای د یو دوامداره بدلون لامل شي. محصلین په عمومي توګه د وترنرۍ علومو پوهنځي ته د کانکور کلنۍ ازموینې له لارې لار پیدا کوي.

د تحصیلي نصاب د لومړۍ کال په دوو سمسترونو کې پخوانۍ/عنعنوي درسي مواد او بنسټیز علوم لکه بیولوژي، کیمیا، ریاضیات، فزیک، انګریزي ژبه تدریسیږي. د دریم، څلورم او پنځم کال محصلین په خپله تحصیلي رشته کې د اختصاصي مضامینو زده کړه پر مخ بیایي.

**د پارا کلینیک څانګې موخې**

د پاراکلینیک څانګې د مضامینو د بشپړولو وروسته به محصلین په لاندې مسایلو پوهه ولري.

۱- محصلین به د اپیدیمولوژي مضمون د بشپړیدو وروسته د ساري او زنوز ناروغیو باندي پوره پوه وي.

۲- محصـــلین به د مختلفو باکتریایي او ویروســـي ناروغیو په اړه چې نه یوازې اقتصـــادي زیانونه اړوي بلکې د ځاني زیانونو احتمال هم شته پوه وي.

۳- د مرغانو په برخه کې به د مختلفو ناروغیو په تشخیص، درملنه، وقایه او کنترول باندي پوه وي.

۴- د لابراتوار په برخه کې به د مختلفو امراضو لابراتواري معاینات تر سره کوي .

۵- د پرازیتولوژي په برخه کې به د مختلفو پرازیتونو په اړه پوه وې او د یاد مضـــمون د بشـــپړیدو وروســـته به وکولای شـــي مختلف حیواني پرازیتونه د لابراتواري معایناتو په مرسته تشخیص او درملنې یې وکړي.

۶- د پتوفزیولوژي مضمون په بشپړیدو سره به محصلین په دې پوهیږي چې یوه ناروغي په کوم میکانیزم سره منځ ته راځي او د یادې ناروغۍ د منځ ته راتلو په سبب کوم ډول وظیفوي تغیرات په وجود کې پیښیږي.

۷- د پتو پتالوژي مضـــمون په بشـــپړیدو ســـره به محصـــلین د مختلفو پتالوژیکي تغیراتو په مرســـته کولای شـــي د ناروغیو تشخیص وکړي.

۸ – د ساري ناروغیو د مخنیوي په خاطر به محصلین د حفظ الصحوي اصولو په مراعت کولو باندي پوه وي.

۹- د پارا کلینیک مضامینو د بشپړیدو په مرسته به محصلین په صحت عامه کې خپل رول لوبولی شي .

**د پارا کلینیک څانګې استادانو پېژندنه**

پوهنمل میر افضل افضلي

تحصیل درجه: ماسټر

د پارا کلینیک څانګې آمر



| پوهندوی اجمل خوستی | پوهندوی عزیز الرحمن خالد | پوهندوی زین الله همت | پوهنمل صبغت الله دانش | پوهنیار بشیر احمد مسرور |
|---|---|---|---|---|
|  |  |  |  |  |

**په څانګه کې د شته استادانو شمیر(بشري منابع) د علمي رتبې په اساس په لاندې ډول دي.**

| ګڼه | نوم | تخلص | علمي رتبه | دنده | د تحصل درجه | د مبایل شمیره | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | میر افضل | افضلي | پوهنمل | د څانګې آمر | ماسټر | ۰۷۷۷۷۱۲۶۱۰ | |
| ۲ | اجمل | خوستی | پوهندوی | استاد | ماسټر | ۰۷۷۱۹۰۰۷۵۱ | |
| ۳ | زین الله | همت | پوهندوی | استاد | ماسټر | ۰۷۷۴۷۲۷۰۰۴ | |
| ۴ | عزیزالرحمن | خالد | پوهندوی | استاد | ماسټر | ۰۷۷۰۰۵۲۰۵۳ | |
| ۵ | صبغت الله | دانش | پوهنمل | استاد | ماسټر | ۰۷۷۷۲۰۳۶۸۳ | |
| ۶ | بشیر احمد | مسرور | پوهنیار | استاد | DVM | ۰۷۷۵۵۴۵۲۲۶ | |

**د پارا کلینیک څانګې درسي نصاب**

| شماره | مضمون | کوډ نمبر | کتګوري | کریډیټ مجموعه | کریډیټ | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | نظري | عملي |
| ۱ | اپیدیمولوژی I | VS832 | تخصصي | ۴ | ۳ | ۱ |
| ۲ | اپیدیمولوژی II | VS923 | تخصصي | ۵ | ۳ | ۲ |
| ۳ | باکتریالوژی وترنري I | VS330 | تخصصي | ۵ | ۴ | ۲ |
| ۴ | باکتریالوژی وترنري II | VS530 | تخصصي | ۴ | ۳ | ۱ |
| ۵ | د چرګانو امراض | VS1033 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۶ | پرازیتولوژی وترنري I | VS534 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۷ | پرازیتولوژی وترنري II | VS634 | تخصصي | ۲ | ۱ | ۱ |
| ۸ | پرازیتولوژی وترنری III | VS734 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۹ | پتوفیزیولوژي وترنری | VS735 | تخصصي | ۴ | ۳ | ۱ |
| ۱۰ | پتولوژی وترنري I | VS631 | تخصصي | ۵ | ۴ | ۱ |
| ۱۱ | پتولوژی وترنري II | VS731 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۱۲ | حفظ الصحه حیوانی | VS637 | اساسی | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۱۳ | ویرولوژی وترنري | VS636 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |

**د کلینیک څانګې لنډه پېژندنه**

د شـیخ زاید پوهنتون د وترنري علومو پوهنځي د کلینیک څانګه دا مهال پنځه تنه اسـتادان لري، چې درې تنه اسـتادان نوي مقرر شـوي دي او د DVM تر کچې تحصیل لري، اما دوه تنه استادان د خارجي هېوادونو په معتبرو پوهنتونونو کې ماسټري تر کچې تحصـیل کړی دی. د یادې څانګې آمر کوښـښ کوي، ترڅو خپلو اسـتادانو ته د ماسـټرۍ او دوکتورا لپاره فرصـتونه پیدا کړي ترڅو په راتلونکي کې د شیخ زاید پوهنتون د وترنري علومو پوهنځي د کلینیک څانګه د علم په برخه کې لا غني شي.

د شیخ زاید پوهنتون د وترنری علومو پوهنځی هڅه کوي ترڅو د وترنري علومو پوهنځي اساسي او تخصصی مضامینو ته په تحصـیلي نصـابونو کې بدلون ورکړي. د تحصـیلي نصـاب تغییر او تجدید کچه په بېلا بېلو پوهنځیو کې توپیر لري او زیاتره اسـتادانو د خپلو درسـي مضـامینو مفردات په انفرادي توګه را منځته او تغییر کړي دي کوم چې نشـي کولای د یو دوامداره بدلون لامل شي. محصلین په عمومي توګه د وترنري علومو پوهنځي ته د کانکور کلنۍ ازموینې له لارې لار پیدا کوي.

د تحصـیلي نصـاب د لومړی کال په دوو سـمسـټرونو کې پخوانی/عنعنوي درسـي مواد او بنسـټیز علوم لکه بیولوژي، کیمیا، ریاضـیات، فزیک، انګلیسـي ژبه او اسـلامي ثقافت تدریس کېږي. د دریم، څلورم او پنځم کال محصـلین په خپله تحصـیلي رشته کې د اختصاصي مضامینو زده کړه پر مخ بیایي.

**د کلینیک څانګې موخې**

1 . د حیواني ناروغیو د تشخیص په برخه کې ظرفیت لوړونه

1. د درملنې پوهې، د درملنې مهارتونو او د درملنې اړین اخلاقي اړخونو په برخه کې ظرفیت لوړونه.
2. د جراحی علم په برخه کې د پوهې، مهارتونو او د دې کورس اړینو نزاکتونو پام کې نیولو په برخه کې ظرفیت لوړونه.
3. د مختلفو میتودونو په استعمال سره د ناروغیو تشـخیص، د ناروغیو درملنې لپاره د ښـو او مناسـبو درملو انتخاب او د مخنیوي لپاره لازمې لارې چارې په نښه کولو کې د محصلینو پوهې کچه او ظرفیت لوړونه.
4. د نارینه او ښـځینه څارویو د تناسـلي سـیسـتم په نارمل او غیرنارمل دندو او فعالیتونو په برخه کې پوهې لوړول، د بلاربوالی تشـخیص، مصـنوعی القاح، سـپرم اخسـیتل او د سـپرم پروسـیس او پریزرویشـن په برخه کې مهارتونو لوړول، او په ټولنه کې د نوموړو علومو اسـتعمال په وخت کې د برخوردونو، نزاکتونو او اخلاقي اړونده مسـائیلو په برخه ظرفیت لوړونه.
5. د حیواني سـکتور پـه بیلابیلو برخو کې د تعلیم، تحقیق او د نوي تکنـالوژۍ د تقویې لپـاره د ملی او بین المللي مرستو جلبول.

## د کلينيک څانګې د استادانو پېژندنه

پوهنمل حکمت الله لنګر

تحصيل درجه: ماستر

د کلينيک څانګې آمر



| پوهندوی عبدالطيف رحيمي | پوهنيار اميدالله صديقي | پوهنيار نوراسلام سهار | پوهنيار افتخار الدين فضلي |
|---|---|---|---|
|  |  |  |  |

**په څانګه کې د شته استادانو شمېر (بشري منابع) د علمي رتبې په اساس په لاندې ډول دي:**

| ګڼه | نوم | تخلص | علمي رتبه | دنده | د تحصل درجه | د مبايل شميره | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حکمت الله | لنګر | پوهنمل | استاد | ماستر | ۰۷۷۶۴۳۸۴۵۱ | |
| ۲ | عبدالطيف | رحيمي | پوهندوی | استاد | ماستر | ۰۷۷۳۱۶۵۵۲۳ | |
| ۳ | اميدالله | صديقي | پوهنيار | استاد | DVM | ۰۷۷۶۲۱۸۸۷۹ | |
| ۴ | نوراسلام | سهار | پوهنيار | استاد | DVM | ۰۷۶۴۷۵۳۷۷۵ | |
| ۵ | افتخارالدين | فضلي | پوهنيار | استاد | DVM | ۰۷۶۵۸۱۶۴۰۹ | |

**د کلينيک څانګې درسي نصاب، چې د دې څانګې د استادانو په واسطه تدريس کيږي په لاندې ډول سره دي:**

| کلينيک څانګه | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کوډ نمبر | کتګوري | کريډيټ مجموعه | کريډيټ | |
| | | | | | نظري | عملي |
| ۱ | تريو جنولوژی وترنريI | VS829 | تخصصي | ۲ | ۱ | ۱ |
| ۲ | تريو جنولوژی وترنريII | VS929 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۳ | کلينيکی تشخيص | VS825 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۴ | وترنری جراحیI | VS927 | تخصصي | ۲ | ۱ | ۱ |
| ۵ | وترنری جراحیII | VS1027 | تخصصي | ۵ | ۳ | ۲ |
| ۶ | طب داخله وترنريI | VS928 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۷ | طب داخله وترنريII | VS1028 | تخصصي | ۴ | ۲ | ۲ |
| ۸ | فارمکولوژی او تکسيکولوژی وترنريI | VS626 | تخصصي | ۴ | ۲ | ۲ |
| ۹ | فارمکولوژی او تکسيکولوژی وترنريII | VS726 | تخصصي | ۴ | ۲ | ۲ |

**د غذايي موادو حفظ الصحه او ټکنالوژي  څانګې لنده پېژندنه**

د شـيخ زايد پوهنتون د وترنري علومو پوهنځي د غذايي موادو حفظ الصـحي او ټکنالوژي څانګه په خپل تشـکيل کې څلور تنه اسـتادان لري چې د هغې له جملې څخه دري تنه اسـتادان د کادري ازموينې له لارې په خپلو اړونده بسـتونو ګمارل شـوي دي او يو بسـت چې په لومړي اعلان کې يې ګټونکی نه درلود بيا ځل اعلان ته سـپارل شـوی چې ډير ژر به  ياد بسـت هم ډک شي. د غذايي موادو حفظ الصحه او ټکنالوژي  څانګې کې دا مهال درې تنه برحال  اسـتادان د DVM تر کچې تحصـيل لري د يادې څانګې امر کوښښ کوي چې يو پاتې خالي بست هم ډک کړي او خپلو استادانو ته د ماسټري او دکتورا لپاره فرصتونه برابرکړي ترڅو په راتلونکي کې د شـــيخ زايد پوهنتون د وترنري علومو پوهنځي د غذايي موادو حفظ الصـــحې او ټکنالوژي څانګه د علم په برخه کې لا غني شي

همدارنګه په دې څانګه کې د استادانو ظرفيت لوړونه دوام لري او د ليسانس با کيفيت تحصيلي پروګرام لپاره وړ ماسټر او دوکتورا لرونکو اسـتادانو ته اړتيا لري چې د نويو بسـتونو په اخيسـتلو او د هغو په ډکولو سـره به د تدريس کيفيت لوړ شي. د وترنری علومو پوهنځی د پارا کلينيک څانګه د اکاډميک او مسـلکي اشـخاصـو د روزنې له لارې د مالداری ودې او پراختيا ته ژمنه دی.

د وترنري علومو پوهنځي د غذايي موادو حفظ الصحې او ټکنالوژي څانګه هڅه کوي چې د وترنري علومو پوهنځي اساسي او تخصصي مضامينو ته په تحصيلي نصابونو کې د ټولنې د اړتياوو په اساس بدلون ورکړي. د تحصيلي نصاب تغيير او تجديد کچه په بيلا بيلو څانګو کې توپير لري او زياتره اسـتادانو د خپلو درسـي مضـامينو مفردات په انفرادي توګه رامنځ ته کړي دي. محصلين په عمومي توګه د وترنري علومو پوهنځي ته  د کانکور کلنۍ ازموينې له لارې لار پيدا کوي.

د تحصیلي نصاب د لومړي کال په دوو سمسترونو کې پخواني یا عنعنوي درسي مواد او بنسټیز علوم لکه کیمیا، بیولوژي، ریاضیات، فزیک، انګلیسي ژبه تدریسیږي او د دریم ،څلورم او پنځم کال محصلین په خپله تحصیلي رشته کې د اختصاصي مضامینو زده کړه پر مخ بیايي.

**د غذايي موادو حفظ الصحي او تکنالوژي څانګې موخې**

د غذايي موادو حفظ الصحي او تکنالوژي څانګې د مضامینو د بشپړولو وروسته به محصلین په لاندې مسلکي علومو کې پوهه ولري:

۱. محصلین به د غذايي موادو د حفظ الصحي په اصولو بشپړه پوهه تر لاسه کړي.

۲. محصلین به د غذايي موادو د پروسس, ساتنې او تکنالوژي په اړه عملي او نظري پوهه ولري.

۳. محصلین به غذايي موادو د کیفیت په کنترول بلد وي.

۴. محصلین به غذايي موادو خرابیدو, ککړتیا او کیفیت ارزونه کولای شي.

۵. محصلین به د لابراتواري ازموینو له لارې د غذايي موادو کیفیت ارزونه کولای شي.

۶.محصلین به د عامې روغتیا له نظره د خوندي غذايي موادو د تولید اهمیت درک کړي.

۷. محصلین به وکولای شي چې د غذايي موادو حفظ الصحي معیارونه په عملي ډول تطبیق کړي.

۸. محصلین به د غذايي موادو د کیفیت د تضمین او کنترول سیستمونه وپېژني.

**د غذايي موادو حفظ الصحي او تکنالوژي څانګې د استادانو پېژندنه**

<table>
<tr><td colspan="3">نوماند پوهنیار زین الله عابد<br>تحصیل درجه: DVM<br>د څانګې آمر</td></tr>
<tr><td colspan="3"></td></tr>
<tr><td>پوهنیار بشیرالله منګل</td><td>پوهنیار انعام الله مومند</td><td>خالي بسست</td></tr>
<tr><td></td><td></td><td></td></tr>
</table>

**په څانګه کې د شته استادانو شمېر (بشري منابع) د علمي رتبې په اساس  په لاندې ډول دي:**

| ګڼه | نوم | تخلص | علمي رتبه | دنده | د تحصیل درجه | د مبایل شمیره | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | زین الله | عابد | نوماند پوهنیار | استاد | DVM | ۰۷۷۱۶۸۳۸۹۸ | |
| ۲ | بشیرالله | منګل | پوهنیار | استاد | DVM | ۰۷۶۴۵۳۴۹۷۵ | |
| ۳ | انعام الله | مومند | پوهنیار | استاد | DVM | ۰۷۰۶۱۴۱۰۵۰ | |

د  غذایي موادو حفظ الصحې او ټکنالوژۍ  څانګې درسي نصاب، چې د دې څانګې د استادانو په واسطه تدریس کیږي په لاندې ډول سره دي:

| د غذایي موادو حفظ الصحې او ټکنالوژۍ څانګه | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کوډ نمبر | کټګوري | کریډیټ مجموعه | کریډیټ | |
| | | | | | نظري | عملي |
| ۱ | د غذایي موادو تحلیل | VS211 | تخصصي | ۴ | ۲ | ۲ |
| ۲ | دغذایی موادو تکنالوژی | VS938 | تخصصي | ۴ | ۲ | ۲ |
| ۳ | حفظ الصحه مواد غذاییI | VS839 | تخصصي | ۴ | ۲ | ۲ |
| ۴ | حفظ الصحه مواد غذایيII | VS1039 | اساسي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۵ | طب عدلی وترنری | VS841 | تخصصي | ۲ | ۲ | ۰ |

**د یادونې وړ ده چې** یوه بله څانګه چې د اهلي حیواناتو روزنې په نوم یادیږي د پوهنځي له لوري یې د منظوري پیشنهاد د لوړو زده کړو محترم وزارت ته لیږل شوی خو  لا تر اوسه یې منظوري نده راغلې؛ دا چې وترنري علومو پوهنځي عمومي فارغدې ده او د دغې څانګې مضامین هم د پورته څلورو څانګو استادانو لخوا تدریس کیږي نو درسي کریکولم په لاندې ډول دي:

| **د اهلي حیو اناتو روزنې څانګه** | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کوډ نمبر | کتګوري | کریډیټ | کریډیټ | |
| | | | | مجموعه | نظري | عملي |
| ۱ | ایکولوژي | VS321 | تخصصي | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۲ | د وزو پسونو روزنه | VS518 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۳ | د لویو حیواناتو روزنه | VS316 | تخصصي | ۴ | ۲ | ۲ |
| ۴ | د ماهیانو مچیو روزنه | VS723 | تخصصي | ۵ | ۳ | ۲ |
| ۵ | د چرګانو روزنه | VS817 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۶ | حیواني تغذیهI | VS522 | تخصصي | ۴ | ۳ | ۱ |
| ۷ | حیوانی تغذیهII | VS622 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۸ | جنیتیک او بیومتری | VS319 | تخصصي | ۴ | ۳ | ۱ |
| ۹ | مونوګرافI | VS824 | مونوګراف | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۱۰ | مونو ګراف II | VS1024 | مونوګراف | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۱۱ | حیوانی نسلګیری | VS520 | تخصصي | ۳ | ۲ | ۱ |

| د وترنري علومو پوهنځي هغه مضامین چې پوهنتون شموله دي او د دې پوهنځی په مختلفو سمسترونوکې تدریس کیږي په لاندې ډول دي | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کوډ نمبر | کتگوري | سمستر | کریډیټ مجموعه | کریډیټ | |
| | | | | | | نظري | عملي |
| ۱ | تاریخ معاصر افغانستان | VS102 | تول شموله | اول | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۲ | کیمیاعمومي و غیري عضوي | VS103 | تول شموله | اول | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۳ | زولوژي | VS105 | اساسي | اول | ۵ | ۴ | ۱ |
| ۴ | ریاضي | VS106 | تول شموله | اول | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۵ | زبان انګلیسيI | VS107 | تول شموله | اول | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۶ | ګیاه شناسي | VS101 | تول شموله | اول | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۷ | کیمیاي عضوي | VS104 | تول شموله | اول | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۸ | زبان انګلیسي II | VS207 | تول شموله | دوهم | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۹ | فیزیک | VS209 | تول شموله | دوهم | ۳ | ۲ | ۱ |
| ۱۰ | د اسلام اعتقادي نظام | SL.IC0171 | تول شموله | اول | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۱۱ | تلاوت او تجوید | SL.IC0172 | تول شموله | اول | ۱ | ۱ | ۰ |
| ۱۲ | د اسلام عبادتی نظام | SL.IC0273 | تول شموله | دوهم | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۱۳ | سیرت نبي | SL.IC0274 | تول شموله | دوهم | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۱۴ | د اسلام اخلاقي نظام | SL.IC0375 | تول شموله | دریم | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۱۵ | د اسلام اجتماعي نظام | SL.IC0376 | تول شموله | دریم | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۱۶ | فکري تربیه | SL.IC0477 | تول شموله | څلورم | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۱۷ | ادایان او مذاهب | SL.IC0478 | تول شموله | څلورم | ۱ | ۱ | ۰ |
| ۱۸ | د اسلام سیاسي نظام | SL.IC0579 | تول شموله | پنځم | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۱۹ | د اسلام اداري نظام | SL.IC0580 | تول شموله | پنځم | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۲۰ | د اسلام اقتصادي نظام | SL.IC0681 | تول شموله | شپږم | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۲۱ | قرآن او معاصر علوم | SL.IC0782 | تول شموله | اووم | ۲ | ۲ | ۰ |
| ۲۲ | تمدن اسلام | SL.IC0883 | تول شموله | اتم | ۲ | ۲ | ۰ |

**پورته د وترنري علومو پوهنځي د ۱۴۰۵ هـ لمریز کال کتلاک د پوهنځی په علمي شورا (۲ ) ګڼه او ۱۰ / ۲ /۱۴۰۵ نیته د رایو په یووالي تائید ده.**